UNITED NATIONS NATIONS UNIES

عمومي منشي

--

د ملګرو ملتونو د سولې ساتونکو د نړیوالې ورځې په ویاړ پیغام

<u>۲۹ مۍ، ۲۰۱۰</u>

د ملګرو ملتونو د سوله ساتونکو د نړیوالې ورځې په ویاړ، موږ د هغو نارینه وو او ښځو قرباني په ویاړنې سره یادوو چې د ملګرو ملتونو تر بیرغ لاندې یې په خدمت کې ځانونه قرباني کړي دي.

د دې کال یادونه له ویر سره ملګري ده، تیرې ۱۴ میاشتې د ملګرو ملتونو د سولې د ساتنې د پروګرام لپاره په ځانګړی ډول مرګونې وختې.

په دارفور کې له مورچل څخه بریدونه....

په کابل کې تروریزم....

او په هایتي کې د الوتکې لوېدل...

دا هغه خواشینونکې پیښې وې چې د سولې د ساتنې عملیات یې په تیر کال کې اغیزمن کړل او ۱۲۱ تنه کسان یې ووژل.

په دې شمیره کې خلک د یوې زلزلې په ترڅ کې، چې په تیرې جنورۍ کې په هایتي کې وشوه، ووژل شول.

د ملګرو ملتونو د ثبات ماموریت په هایتي کې ۹۶ سوله ساتونکی له لاسه ورکړل – دغه پیښه د سولې ساتنې په تاریخ کې تر ټولو ستره مرګونې پیښه وه.

خو دغه توره ورځ هم زموږ د ژوندانه په ښو ساعتونو واوښتله، ځکه چې د **مینوستا** نارینه وو او ښځو خپل ذهني ټکان او صدمه یوې خواته کړه، بیرته یې دغه پلاوی ژر پر پښو ودراوه ، د هایتي له خلکو سره یې مرسته وکړه چې د ډیرو ډارونکو او وخیمو وروستنیو پایلو سره مقابله وکړي.

له هغه ځایه چې موږ د دغه ډول د زړه ور خوځښت څرګندونو او ژمنې درناوي کوو، موږ همدارنګه ۱۲۲۰۰۰ پوځیانو، پولیسو او ملکی پرسونل څخه مننه کوو چې په ټوله نړۍ کې زموږ په عملیاتو کې په پوره ویاړ سره خدمت ترسره کوي.

د هغوي هلې ځلې نیغ په نیغه د میلیونونو وګړو سره مرسته کوي...

د امنیت په برابرولو او پخلاینې ته په ودې ورکولو سره...

د ماینونو د پاکولو او د جنګیالیو د غیر نظامي کولو....

د موسسو د ځواکمنتیا او د قانون د حاکمیت له لارې...

د مرستو د رسولو او د کډوالو او بیځایه شویو کسانو د راستنیدو له لارې....

د دموکراتیکو ټاکنو د ملاتړ، د امنیتی سکتور د اصلاحاتو... او داسې نورو زیاتو اقداماتو له لارې...

سوله ساتنه د غوره او ښې نړۍ لپاره د ملګرو ملتونو د کار حتمي او لازمي برخه ده. راځئ چې د دې ملاتړ وکړو چې دغه بریالیتوب ته ورسیږو.